# د نبوي مسجد

# د زيارت ځرنګوالی

لیکوال : د سعودي عربستان د سترو علماؤ
د هیأت رئیس، او ددې هېواد مشر مفتي:
امام عبدالعزیز بن باز

بسم الله الرحمن الرحيم

## د رسول صلی الله علیه وسلم د مسجد زیارت

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد:

د نبي صلی الله علیه وسلم د مسجد (جمات ) زیارت کول له حج څخه وړاندې او وروسته سنت دي، لکه څرنګه چې په صحیحینو کې راغلي دي، چې له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت ده چې نبي صلی الله علیه وسلم ویلي دي: (**صلاة في مسجدي هذا خير من ألف صلاة فيما سواه الا المسجد الحرام**) زما په جمات کې یو لمونځ د نورو جماتونو له زرو لمونځونو څخه غوره ده، پرته له مسجد الحرام څخه.

او له ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت ده، چې نبي صلی الله علیه وسلم وایي: (**صلاة في مسجدي هذا أفضل من ألف صلاة فيما سواه الا المسجد الحرام**) رواه مسلم.

ژباړه: زما په دې جمات کې یو لمونځ د نورو جماتونو له زور لمونځونو څځه غوره ده، پرته له مسجد الحرام څخه.

او همدا رنګه له عبدالله بن الزبير رضي الله عنه څخه روایت ده چې نبي صلی الله علیه وسلم وایي: (**صلاة في مسجدي هذا أفضل من ألف صلاة فيما سواه الا المسجد الحرام وصلاة في مسجد الحرام أفضل من مائة صلاة في مسجدي هذا**) دا حدیث أحمد، ابن خزیمه او ابن حبان روایت کړی.

ژباړه: زما په دې جمات کې يو لمونځ د نورو جماتونو له زور لمونځونو څخه غوره ده، غير له مسجد الحرام څخه، او په مسجد الحرام كې يو لمونځ زما په جمات كې له سلو لمونځو څخه غوره ده.

او همدارنګه له جابر رضی الله عنه څخه روايت ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وايي:(**صلاة في مسجدي هذا أفضل من ألف صلاة فيما سواه وصلاة في المسجد الحرام أفضل من مائة ألف صلاة فيما سواه**). دا حديث احمد او ابن ماجه روايت کړی.

ژباړه: زما په دې جمات کې يو لمونځ د نورو جماتونو له زور لمونځونو څخه غوره ده، غير له مسجد الحرام څخه، او په مسجد الحرام كې يو لمونځ په نورو جماتو كې له سلو زرو لمونځو څخه غوره ده.

او په دې معنا کې زيات حديثونه راغلي دي، نو کله چې زيارت کوونکی نبوي جمات ته ورسيده، مستحب داده چې لمړی خپله ښۍ پښه جمات ته دننه کړي بيا ووايي: (**بسم الله والصلاة والسلام على رسول الله، أعوذ بالله العظيم وبوجهه الكريم وسلطانه القديم من الشيطان الرجيم، اللهم افتح لی أبواب رحمتک**) لکه څرنګه چې دا دعا نورو جماتو ته د ننوتو په وخت کې هم ويل کيږي، او نبوي مسجد ته د ننوتلو لپاره کوم خاص ذکر نشته، بيا به زيارت کوونکی دوه رکعته لمونځ اداء کړي، او بيا به د دنيا او آخرت د خير دعا وکړي، او که دا دوه رکعته لمونځ په روضه مباركه كې اداء کړي

خو بیخي به غوره وي، ځکه نبي صلی الله علیه وسلم وايي: (**مابين بيتي و منبري روضة من رياض الجنة**) زما د کور او منبر تر مينځ د جنت له باغچو څخه يوه باغچه ده، له هغه وروسته به د نبي صلی الله علیه وسلم د قبر زيارت وکړي، او د صاحبينو يعنی ابو بکر او عمر رضی الله تعالی عنهما زيارت به وکړي، نو د نبي صلی الله علیه وسلم د قبر لور ته به په ادب او ټيټ غږ سره ودريږي، سلام به پرې وکړي، علیه الصلاة والسلام، او داسې به ووايي: (**السلام عليک يا رسول الله ورحمة الله وبرکاته**) ځکه په سنن ابو داود کې په حسن اسناد سره راغلي، چې له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت ده، وايي نبي صلی الله علیه وسلم ويلي دي: (**مامن أحد يسلم عليَّ الا ردَّ الله عليَّ روحي حتی أردّ عليه السلام**) او که سلام کوونکی داسې ووايي، (**السلام عليک يا نبي الله، السلام عليک يا خيرة الله من خلقه، السلام عليک يا سيد المرسلين وامام المتقين، أشهد أنک قد بلَّغت الرسالة و أديت الأمانة ونصحت الأمة، و جاهدت في الله حق جهاده**) نو دا هم صحيح ده، ځکه دا ټول د نبي صلی الله علیه وسلم صفات دي، او زيارت کوونکی به درود و وايي علیه الصلاة والسلام، او دعا به ورته وکړي، ځکه په شريعت کې روا ده چې په نبي صلی الله علیه وسلم باندې هم درود او هم سلام وويل شي، ځکه الله تعالی وايي: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا ٥٦﴾ آيت الأحزاب سورت، بيا به په ابوبکر او عمر رضي الله تعالی عنهما باندې سلام وکړي، او هغوی ته به دعا وکړي.

او ابن عمر رضی الله عنهما به چې کله په نبي صلی الله علیه وسلم باندې سلام کاوو، نو غالبا به يې له دې زيات څه نه ويل: (**السلام عليک يا رسول الله، السلام عليک يا أبابكر، السلام عليک يا أبتا**) بيا بيرته تلو، او دا زيارت کول يواځې د نرانو لپاره ده، او د ښځو لپاره زيارت کول نه دي روا، لکه څرنګه چې نبي صلی الله علیه وسلم څخه ثابته شوې ده چې (**أنه لعن زوارات القبور من النساء والمتخذين عليها المساجد والسراج**) هغه مبارک لعنت ويلی په هغو ښځو چې زيارت کوي، او په هغو نرانو چې په قبرونو جماتونه جوړوي او څراغونه وربانديې بلوي، او هغه څوک چې سفر ددې لپاره کوي چې مدينې ته راشي او دلته د نبي صلی الله علیه وسلم په جمات کې لمونځ وکړي، نو دا ټول کولی شي که ښځې وي او که نران، لکه څرنګه چې په احاديثو کې ويل شوي.

**او سنت ده** د زيارت کوونکي لپاره چې په نبوي صلی الله علیه وسلم مسجد کې پنځه وخته لمونځونه اداء کړي، او زيات ذکر او دعاګانې په کې وکړي، او يا هم زيات نفل لمونځونه په کې وکړي، ځکه په دې کې زيات اجر ده، او مستحب ده چې په روضه مبارکه کې زيات نفل لمونځونه اداء کړي، لکه څرنګه مو چې مخکې وويل، چې نبي صلی الله علیه وسلم وايي: (**مابين بيتي و منبري روضة من رياض الجنة**) زما د کور او منبر تر مينځ د جنت له باغچو څخه يوه باغچه ده،.

**اما فرضي لمونځونه** چې دي، نو زيارت کوونکي او نورو ټولو ته اړينه ده چې په هغو باندې ټينګ و اوسي، او که کولی شي په لمړي

صف کې و درېږي، ځکه په لمړي صف کې لمونځ ژر قبلیږي، لکه څرنګه چې په مبارکو احادیثو کې راغلي دي، چې نبي صلی الله علیه وسلم په لمړي صف کې لمونځ کولو ته خلک تشویق کړي دي، لکه چې هغه صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته ویلي و: (**تقدموا فأتموا بي وليأتم بكم من بعدكم ولايزال الرجل يتأخر عن الصلاة حتى يؤخره الله**) أخرجه مسلم.

را مخکې شئ او ما پسې لمونځ وکړئ، او په تاسې پسې به هغه خلک لمونځونه وکړي چې له تاسو وروسته راځي، او هغه سړی چې له لمانځه څخه ځان شاته کوي، همداسې پاتې کیږي تر څو یې الله تعالی سم شاته کړي، (مړشي). او ابو داود له عائشې رضی الله عنها څخه په حسن روایت سره روایت کړی، چې نبي صلی الله علیه وسلم ویلي دي: (لايزال الرجل يتأخر عن الصف المقدم حتى يؤخره الله في النار) او همدا رنګه له هغه مبارک څخه ثابته شوې ده چې خپلو ملګرو ته یې ویلي دي، : (**ألا تصفون كما تصف الملائكة عند ربها؟ قالوا يا رسول الله وكيف تصف الملائكة عند ربها؟ قال: يتمون الصف الأول و يتراصون في الصف**) رواه مسلم.

ژباړه: ایا تاسو داسې صف نه جوړوی لکه ملایکې یې چې د خپل رب مخ ته جوړوي، صحابه و رضی الله عنهم وویل: یا رسول الله او ملایکې د رب مخې ته څنګه صف جوړوي؟ نبی صلی الله علیه وسلم وویل: لمړی صف پوره کوي، او په صف کې نیژدی اونیغ درېږي. دا حدیث مسلم روایت کړی.

او په دې معنا کې زيات شمير حديثو نه راغلي دي، او همدا رنگه هغه مبارک د ښي طرف په صفونو باندې هم خلک تشويق کړي دي، او معلومه ده چې په نبوي لمړي مسجد کې ښۍ خوا له روضې څخه بهر و، نو دې له څخه معلوميږي چې لمړي صف او ښي طرف ته دريدلو ته بايد له روضې څخه زياته توجه وشي، او په لمړي صف او ښۍ خوا کې دريدل له روضي څخه غوره دي، چې که څوک په احاديثو کې ژور غور وکړي دا به ورته جوته شي، والله الموفق.

او هيچ چاته نه دي روا چې مبارکه حجره ښکل کړي يا ورڅخه طواف وکړي، ځکه دا کار له سلف صالح څخه چا نده کړی، بلکې يو بدعت ده، او هيچاته نه ده روا چې له نبي صلی الله عليه وسلم څخه د حاجت د پوره کيدو سوال وکړي، او ياهم د مصيبت څخه د خلاصون، يا له مرض څخه د شفا، او يا داسې نورې غوښتنې وکړي، ځکه دا ټول يوځې له الله تعالی څخه غوښتل کيږي، او له مړو څخه ددې شيانو غوښته شرک ده او غير له الله څخه بل چاته عبادت ده، او د اسلام مبارک دين په دوه اصلونو ټينگار کوي، لمړی: چې غير له الله څخه بل چاته عبادت ونشي، او دويم داچې عبادت ونشي مگر په هغه طريقه چې نبي صلی الله عليه وسلم جوړه کړې، او ددې معنا د (لا اله الا الله، و أن محمدا رسول الله) ده. او همدارنگه به هيڅ څوک له رسول څخه شفاعت نه غواړي، ځکه شفاعت د الله تعالی واک ده، او له هغه څخه غوښتل کيږي، لکه الله تعالی چې وايي: ﴿قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَٰعَةُ جَمِيعًا﴾ الزمر ﴿٤٤﴾ ايت.

نو زیارت کوونکی به داسې وايي: اللهم شفع في نبيک، اللهم شفع في ملائکتک وعبادک المؤمنين اللهم شفع في افراطي ...او داسې نور، خو له مړو څخه شفاعت نه غوښتل کيږي، که انبياء وي که نور خلک، ځکه د مړو څخه د هغوی عمل قطع کيږي غير له هغه عمله چې الله تعالى استثناء کړی وي.

او په صحيح مسلم کې راغلي دي، چې له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت چې نبي صلى الله عليه وسلم ويلي دي: (**اذا مات ابن آدم انقطع عمله الا من ثلاث: صدقة جارية، أو علم ينتفع به، أو ولد صالح يدعو له**).

ژباړه: کله چې انسان مړ شي، نو عمل يې قطع کيږي غير له دريو شيانو: صدقه جاريه، يا علم چې ګټه يې ورته رسيږي، او ياهم نيک زوی چې دعا ورته وکړي.

همدارنګه له نبي صلى الله عليه وسلم څخه د شفاعت غوښتل دهغه مبارک په ژوند کې روا و، او همدارنګه يې شفاعت غوښتل د قيامت په ورځ هم روا دي، ځکه په هغه وخت کې کولای شي، چې نبي صلى الله عليه وسلم الله تعالى ته ورمخته شي، او د سوال کوونکي شفاعت وکړي، اما په دنيا کې مالومه ده چې نه نبي صلى الله عليه وسلم او نه هم بل کوم څوک د مرګ په حالت کې د چا شفاعت وکړي.

نو يو مسلمان کولی شي خپل ورور ته ووايي چې ماته رب ته شفيع شه ، يعنې ماته داسې دعا وکړه، او هغه ورور بيا کولی د لمړي

سړي شفاعت او سپېنارتنہ وکړي يعني دعا ورته وکړي، که چيرته مطلوب شی حلال کار و، اما د قيامت په ورځ بيا هيڅ څوک نشي کولی چې د چا شفاعت وکړي، مګر وروسته د الله تعالی له اجازې، لکه څرنګه چې الله تعالی وايي: **(مَن ذَا الَّذِى يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ)** البقرة ۲۵۵ ايت، خو د مرګ په حالت چې يو ځانګړی حالت ده، هغه د انسان له ژوندون، او له بعث بعد الموت يا له مرګه پس ژوند سره نشي پرتله کيدلای، ځکه دانسان عمل قطع کيږي، مګر هغه چې الله تعالی استثناء کړی وي.

او په دې کې شک نشته چې نبي صلی الله عليه وسلم له وفات څخه وروسته په برزخي ژوند، ژوندی ده داسې ژوند چې د شهيدانو له ژوند څخه پوره ده، خو له دې سره هم هغه ژوند يې د لمړي ژوند له جنس څخه نده، او نه هم دهغه ژوند له جنس څخه ده، چې د قيامت په ورځ به وي، بلکې دا داسې يو ژوند ده چې غير له الله تعالی څخه بل څوک يې په حقيقت نه پوهيږي، لکه څرنګه چې نبي صلی الله عليه وسلم ويلي دي: **(مامن أحد يسلم عليَّ إلا ردَّ الله عليَّ روحي حتى أرد عليه السلام)** داسې څوک نشته چې په ما سلام ووايي، او زه ځواب ورنکړم، بلکې الله تعالی زما روح ماته راولي، تر څو ددې سړي دسلام ځواب ورکړم.

نو دا حديث مبارک په دې دلالت کوي چې د نبي صلی الله عليه وسلم مبارک روح د هغه صلی الله عليه وسلم له جسد څخه بيل شوی ده، خو د سلام په وخت کې ورته راځي، او داسې ډير دلايل شته چې نبی صلی الله عليه وسلم وفات شوی ده، او دا يوه متفق

عليه موضوع ده، خو دا خبره يې ددې مانع نشي کيدلای چې هغه صلی الله عليه وسلم په برزخي ژوند ژوندی ده، لکه څنګه چې د شهيدانو ژوند دده د برزخي ژوند مانع نشي کيدلی، لکه چې الله تعالی وايي: ﴿وَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتَۢاۚ بَلۡ أَحۡيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمۡ يُرۡزَقُونَ ١٦٩﴾ آل عمران ١۶٩.

او مونږ په دې هلکه ځکه دا خبرې وکړې چې ځينې خلک له مړو څخه د حاجت د پوره کولو دعا کوي، چې دا شرک ده، او د غير له الله څخه د مړو عبادت ده، نو د الله تعالی څخه غوښتنه کوو چې مونږ او تاسې ټول له داسې کار څخه وساتي چې د هغه د شرعې مخالف وي. الله اعلم.

او ځينې خلک يا زيارت کوونکي د نبي صلی الله عليه وسلم د قبر ترڅنګ نارې وهي، او خپل غږونه پورته کوي او يا هم هلته ډير درېږي، چې دا کارونه د شريعت مخالف دي، ځکه الله تعالی امت له دې څخه منع کړی، چې خپل غږونه د نبي صلی الله عليه وسلم له غږ څخه لوړ کړي، او يا هغه ته په لوړ اواز خبرې وکړي، لکه ځينې خلک چې په ځينو نورو عادي خلکو خپل غږونه ور پورته کوي، او الله تعالی خلک دېته هڅوي چې په ټيټ اواز خبرې وکړي: قوله تعالى: (**يَأَيُهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لاَ تَرفَعُوا أَصوَاتَكُم فَوقَ صَوتِ النَّبِيِّ وَلاَ تَجهَرُوا لَهُ بِالقَولِ كَجَهرِ بَعْضِكُمْ لِبَعضٍ أَن تَحبَطَ أَعْمَالُكُم**

**وَأَنتُم لاَ تَشْعُرُونَ۞ إِنَّ الَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصوَاتَهُم عِندَ رَسُولِ اللَّهِ أُوْلَآئِکَ الَّذِينَ امتَحَنَ اللَّهُ قُلُوبَهُم لِلتَّقوَى لَهُم مَّغفِرَةٌ وَ أَجْرٌ عَظِيمٌ۞**
الحجرات ۲، ۳.

او د نبي صلی الله علیه وسلم د قبر سره زیات درېدل او په هغه زیات سلام کول د بیروبار سبب کیږي، او شورماشور ورنه جوړیږي، چې دا کار د شریعت خلاف ده، لکه څنګه چې په مبارکو ایتونو کې ویل شوي دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم که مړ ده او که ژوندی و، په دواړو حالاتو کې محترم ده، او یوه مؤمن ته دا نه ده مناسبه چې د ادابو خلاف کارو وکړي، او یاهم ځینې خلک مخ د قبر خواته کوي، او لاسونه پورته کوي، چې دا کار هم د سلف صالحه و، کار نه و، بلکې یو بدعت ده، او نبي صلی الله علیه وسلم وایي: (**علیکم بسنتي و سنة الخلفاء الراشدین المهدیین من بعدي، تمسکوا بها وعضوا علیها بالنواجذ وایاکم ومحدثات الأمور، فان کل محدثة بدعة وکل بدعة ضلالة**) أخرجه أبو داود والنسائي باسناد حسن.

ژباړه: په تاسو لازمه ده چې زما په سنتو او د راشدینو مهدیینو خلیفه ګانو په سنتو عمل وکړئ، په دې سنتو ټینګ شئ، او په پوره

ډول یې را ونیسئ، او لرې شئ له نوو لارو څخه نو هره نوې پیدا شوې لاره یا نوی پیدا شوی سنت بدعت ده، او هر بدعت بې لاري ده) .

او همدا رنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: **(من أحدث في أمرنا هذا مالیس منه فهو رد)** أخرجه البخاري ومسلم.

ژباړه: چاچې زمونږ په دې شریعت کې هغه څه نوي را پیدا کړل چې ددې شریعت نه و، هغه رد دي.

او د مسلم په بل روایت کې راغلي: **(من عمل عملا لیس علیه أمرنا فهو رد)** چا چې په شریعت کې داسې کار وکړ، چې زمونږ لاره هغسې نه وه هغه عمل یا کار رد ده.

او همدا رنګه علي بن الحسین زین العابدین رضی الله عنه یو سړی ولیده، چې د نبي صلی الله علیه وسلم د قبر خواته یې دعا کوله، نو منع یې کړ، او ورته یې وویل: ایا تاته یو حدیث ونه وایم چې ما له خپل پلاره او هغه زما له نیکه او هغه له نبي صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی، چې ویل یې: **(لا تتخذوا قبري عیداً، ولا بیوتکم**

**قبوراً وصلوا عليَّ فان تسليمكم يبلغني أينما كنتم)** أخرجه الحافظ محمد بن عبدالواحد المقدسي في كتابه المختار.

ژباړه: مه جوړوئ زما له قبر څخه عادت، او مه جوړوئ له خپلو کورنو څخه قبرونه، او په ما درود ووايئ ماته را رسيږي که تاسو هر چيرته ياست.

او همدارنګه ځيني زيارت کوونکي، د زيارت په وخت کې په خپله سينه باندې يا لږ لاندې ښى لاس په چپ لاس باندېږدي، لکه چې لمونځ کوي، چې دا ډول دريدل په نبي صلى الله عليه وسلم باندې د سلام اچولو په وخت کې ښه کار نده، او نه هم بل چاته که پاچايان وي که ملکان، ځکه دا ډول دريدل د خضوع او ذل او عبادة دريدل دي او له الله تعالى پرته بل چاته مناسب نه دي، لکه څرنګه چې دا خبره حافظ ابن حجر رحمه الله په خپل کتاب کې را نقل کړې ده، او دا خبره ښکاره او روښانه ده چې سلف صالحه و داسې نه دي کړي، او هغه کسان چې له داعيانو سره تعصب لري الله تعالى دې ورته هدايت وکړي.

او همدارنګه ځينې خلک قبر ته مخامخ دريږي، او له لرې څخه په دعا او سلام شونډې خوځوي، چې دا ټول کارونه بدعت دي، او

مسلمان باید په دین کې نوي شیان پیدا نه کړي، او امام مالک صیب رحمه الله ددې عمل او دې ته ورته اعمالو مخالف و، او ویلي یې دي، د دې امت آخری خلک پہ هغہ څہ اصلاح او سمیږي ، پہ کوم چې د دې امت مخکنی خلک سم او اصلاح شوی وو ، او مالومه ده چې د هغوی اصلاح د نبوي منهج او همدارنګه د خلفاء راشدینو او اصحابو کرامو او تابعینو په لاره تللو باندی راغلې ، او د دې امت آخری خلک هغه وخت اصلاح کیږي چې ددوی په لاره ولاړ شي، الله تعالی دې مسلمانان هغې لارې ته بریالي کړي په کومه کې چې یې نجات او سعادت او عزت موجود وي هم په دنیا او هم په اخرت کې ځکه الله تعالی جواد او کریم ذات ده.

## پاملرنه

د نبي صلی الله علیه وسلم زیارت کول واجب نه دي، او نه هم په حج کې شرط ده، چې زیارت یې وشي، بلکې زیارت کول یې مستحب دي، هغه چاته چې هلته نږدې اوسیږي او یاهم له بله ځایه د نبوي مسجد زیارت ته راغلی وي، اما هغه څوک چې لرې اوسیږي ورته لازمه نه ده چې د نبي صلی الله علیه وسلم د قبر دزیارت کولو لپاره د سفر موزې په پښو کړي، او خاص د قبر زیارت لپاره

راشي، خو د نبوي مسجد د زيارت لپاره سفر کول سنت دي، نو چې کله مسجد ته را ورسيږي بيا دې د قبر زيارت هم وکړي او همدارنګه د راشيدينو خلفاءو زيارت دې هم وکړي، يعنې د نبي صلى الله عليه وسلم د قبر زيارت کول د مسجد زيارت کولو تابع دي، ځکه چې په صحيحينو کې راغلي دي، چې نبي صلى الله عليه وسلم وايي: (**لا تشد الرحال إلا إلى ثلاثة مساجد: المسجد الحرام، ومسجدي هذا، والمسجد الأقصى**).

ژباړه: د سفر پنډې نه تړل کيږي مګر دريو جماتو ته: مسجد الحرام ته، زما دې مسجد ته او مسجد الاقصى ته.

او که د نبي صلى الله عليه وسلم د قبر د زيارت لپاره او يا د بل چا د قبر د زيارت کولو لپاره سفر پيل کول روا وى، نو سلف صالحه و به داسې کړي وى، ځکه هغوى تر مونږ اعلم او ارشد و، او له الله تعالى زيات ويريدل، او بلاغ المبين (نبي صلى الله عليه وسلم) مونږ ته هرڅه را رسولي دي، او امت ته يې ټول خير وربښودلى، او له ټولو شرو څخه ويرولي دي، او هغه مبارک خلک منع کړي چې غير له دغو دريو جماتو نورو جماتو ته د سفر پنډې مه تړئ،

او همدارنګه يې ويلي: (**لا تتخذو قبري عيدا، ولا بيوتكم قبورا، وصلوا عليَّ فان صلاتكم تبلغني حيث كنتم**).

ژباړه: مه جوړوئ زما له قبر څخه عادت، او مه جوړوئ له خپلو کورنو څخه قبرونه، او په ما درود ووايئ ماته را رسيږي که تاسو هر چيرته ياست.

او که څوک ووايي چې د نبي صلى الله عليه وسلم د قبر زيارت کولو لپاره بستره تړل اوسفر ورکول روا دي، نو دا کار ددې سبب کيږي چې له زيارت څخه عادت جوړ شي، او له هغه څه چې نبي صلى الله عليه وسلم منع کړې په هغه کې واقع شو، لکه زيات خلک چې په کې واقع شوي هم دي.

او ځينې هغه احاديث چې په هغو باندې د نبي صلى الله عليه وسلم د قبر د زيارت کولو لپاره د سفر کولو جواز ورکول شوی، هغه احاديث ضعيف دي، او ځينې يې موضوعي دي، لکه څرنګه چې دار قطني، بيهقي او ابن حجر ويلي دي، او د هغو صحيحو احاديثو په مقابل کې احتجاج نشي وربانديې کيدلی چې منع يې کړې ده.

او دا هم ځینې موضوع احادیث چې په دې هکله ویل شوي، ددې لپاره یې دلته لیکو چې تاسو یې و پیژنئ:

لمړی: من حج ولم یزرني فقد جفاني. (چا چې حج وکړ او زما زیارت یې ونه کړ نو جفا یې راسره وکړه).

دویم: من زارني بعد مماتي فکأنما زارني في حیاتي. (چا چې زما زیارت د مرګ څخه وروسته وکړ داسې ده لکه چې له مرګ څخه وړاندې یې زما زیارت کړی وي.

دریم: من زارني وزار أبي ابراهیم في عام واحد ضمنت له على الله الجنة. (چا چې زما او زما د پلار (نیکه) زیارت په یوه کال کې وکړ، نو په الله تعالى یې جنت ته د داخلیدو ضمانت زه کوم.

څلورم: من زار قبري وجبت له شفاعتي. (چا چې زما د قبر زیارت وکړ، زما شفاعت ورته واجب شو).

نو دا احادیث او دیته ورته نور احادیث له نبي صلی الله علیه وسلم څخه نه دي ثابت شوي، ابن حجر په تلخیص کې ویلي دي: کله یې چې دا روایات ذکر کړل، ددې حدیث ټولې لارې ضعیفې دي، او حافظ العقیلي وایي: په دې هکله هیڅ شی سم ندي، او شیخ الاسلام

ابن تیمیة رحمه الله وايي چې دا احادیث ټول موضوعي دي، اوپام کوه، او که دا احادیث ثابت وی، نو صحابه و رضی الله عنهم به لا په خوا خلک دې کارته را بللي و، او خپله به يې هم عمل ورباندې کړی و، ځکه هغوی له نبي صلی الله علیه وسلم څخه وروسته عالمان دي، او له نورو خلکو غوره دي، او خلکو ته ډیر نصیحت کوونکي و، او ډیر اعلم و، او بیاهم که چیرته دا احادیث صحیح هم وګڼل شي، بیا هم جمع بین الأحادیث باید راشي چې په هغه وخت کې دغه ډول احادیث په شرعي زیارت یعنې هغه چې په خاص ډول د قبر د زیارت کولو لپاره سفر نه وي شروع شوی، بلکې د مسجد د زیارت لپاره شروع شوی وي، په هغو احادیثو ور حمل کیږي. ترڅو جمع بین الاحادیث راشي، والله سبحانه وتعالی أعلم.

## فصل

او مستحب ده د مدینې منورې دزیارت کوونکي لپاره، چې د قباء جمات زیارت وکړي، او په هغه کې لمونځ وکړي، ځکه چې په صحیحینو کې حدیث راغلی چې ابن عمر رضی الله عنهما ویلي دي، چې نبي صلی الله علیه وسلم به د قباء جمات زیارت کولو، که

به سپور، او که به پلی روان و، او دوه رکعته لمونځ به یې په کې کولو.

اوهمدارنګه له سهل بن حنیف رضی الله عنه څخه روایت ده، چې وایي نبی صلی الله علیه وسلم ویلي دي: (**من تطهر في بيته ثم أتى مسجد قباء فصلى فيه صلاة كان له كأجر عمرة**) رواه أحمد والنسائي وابن ماجه، واللفظ له والحاكم.

ژباړه: څوک چې اودس وکړي په خپل کور کې او بیا د قباء جمات ته راشي او دوه رکعته لمونځ په کې وکړي، دومره اجر لري لکه د یوې عمرې.

**اوهمدارنګه ورته سنت ده** چې د بقیع او شهیدانو، او دحمزه رضی الله تعالی عنهم د قبرونو زیارت وکړي، ځکه نبي صلی الله علیه وسلم به ددوی زیارت کولو او دعا به یې ورته کوله، او لکه چې نبي صلی الله علیه وسلم وایي: (زوروا القبور فإنها تذكركم الآخرة) أخرجه مسلم.

ژباړه: د قبرونو زیارت کوئ، دا قبرونه تاسې ته آخرت در یادوي.

او نبي صلی الله علیه وسلم به خپلو ملګرو ته ورښودل، چې کله زيارت کوئ نو داسې وايئ: (**السلام عليكم أهل الديار من المؤمنين والمسلمين، وإنا إن شاء الله بكم لاحقون، نسأل الله لنا ولكم العافية**) آخرجه مسلم من حديث سليمان بن بريدة عن أبيه.

او همدارنګه ترمذي له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت کړی، ويلي يې دي چې نبي صلی الله علیه وسلم د مدينې په قبرونو تيريده، نو ورته مخامخ شو، په خپل مخ باندې، او ويې ويل: (**السلام عليكم يا أهل القبور يغفرالله لنا ولكم، أنتم سلفنا ونحن بالأثر**).

او له دې احاديثو څخه مالوميږي چې له شرعي زيارت څخه مطلب د آخرت په يادول دي، او له مړو سره نيکي کول او هغوی ته دعا کول دي، او په هغوی رحم کول دي، او اما له مړو څخه شفا غوښتل او هغوی ته سجده کول، او د حاجت د پوره کيدو غوښتنې دا ټولې شرک دي، او بدعت ده چې الله تعالی حرام کړي، دي او رسول ندي کړي او نه هم کوم سلف کړي دي، رضی الله عنهم، بلکې دا هغه ممنوعات دي چې نبي صلی الله علیه وسلم له هغو څخه منع کړې ده، لکه چې ويلي يې دي: (**زوروا القبور ولا تقولوا هُجرا**) او دا ذکر شوی شيان ټول بدعت ده، خو درجې يې فرق

کوي، چې ځینې یې بدعت ده او شرک نه ده، او ځینې یې شرک ده لکه له مړو څخه مرسته غوښتل، او داسې نور.. چې ددې ټولو بیان مخکې تیر شو، نو له الله تعالی څخه ټولو ته توفیق او غواړم، فهو سبحانه الموفق والهادي لاإله غیره، ولا رب سواه.

دا زما وروستۍ خبره وه، والحمدلله أولا وآخرا، وصلى الله وسلم على عبده ورسوله وخیرته من خلقه محمد وعلى آله و أصحابه، و من تبعهم باحسان الى یوم الدین.